SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان
پنځم کال ۸٤ ګڼه پرله پسې(۳۷۱) سه شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د شعبان المعظم (۱۸)
د۱۳۷۹هـ ش کال د لړم دمیاشتې(۲٤)د۲۰۰۰میلادي کال د نوامبر (۱٤)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ځکه!
همدا (عدل) ډېر نږدې دی
تقوا(پرهیزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

محترم معاون اقتصادي ریاست الوزرا ا.ا.ا ضمن بیانیه فرمودند :

باید تمـــام اجراات مطـــابق قـــوانین مطـــروحه عملي گردد

کابل – باختر :
محترم مولوي عبدالکبیر معاون اقتصادي ریاست الوزرا دیروز در جلسه اختتامیه سیمینار توضیحي و تشریحي قوانین و مقررات جدید وزارت امور داخله اشتراک نمود.
جلسه اختتامیه سیمینار متذکره با تلاوت آیات چند از کلام الله مجید آغاز بعداً محترم مولوي عبدالهادي اخند زاده والي کنر، محترم مولوي احمد الله مطیع وزیر فواید عامه و محترم ملا عبدالرزاق اخند وزیر امور داخله بالترتیب پیرامون ارزش مندي هاي مسایل مطروحه در سیمینار به تفصیل صحبت نموده ومسوولین امور را متوجه وظایف خطیر شان در این عرصه نمود.
متعاقباً محترم مولوي عبدالکبیر ضمن سخنراني مبسوطي گفت : تطبیق قوانین نافذه یک امر شرعي بوده مسوولین مربوط مکلف اند که این قوانین را اولاً بالاي خود و بعداً بالاي مردم تطبیق نمایند بعد از این تمام اجراات مطابق قوانین و مقررات مطروحه عملي گردد.
جلسه اختتامیه سیمینار متذکره با قرائت دعائیه توسط محترم مولوي نور الحق قوماندان امنیه ولایت ننگرهار خاتمه یافت.

د سمنګانو په ولایت کې :

له اسلامی امارت سره یو ځای شول

۹ تنه قوماندانان او د هغوی ۲۱۵ تنه افراد

د یو ځـای شویو قـوماندانانو په جمله کی رئیس جمعه، قوماندان محمد صدیق، قوماندان خانی، ملا جمعه، غلام محمد او قوماندان بابه خان هم شامل دی

دوی له ځـانه سـره یو زیات شمیر درنی او سپـکی وسـلی هم تسـلیم کـړي دي

دوي ته د سمنـګـانو ولایت د مرسـتیال او نورو لـوړ رتبه چـارواکو لخـوا تود هرکـلی وویـل شـو

یوځاي شویو قوماندانانو له ټولو مخالفینو څخه وغوښتل چی نور د اسلامی امارت له مخالفت څخه لاس واخلی او د دښمنانو د دسېسو ښکار نشی

سمنګان – باختر :
د مخالفینو نهه تنه قوماندانان د خپلو دوه سوه پنځلس تنو وسله والو افرادو او د یوې اندازې درندو او سپکو وسلو په ګډون په دې وروستیو وختو کې د اسلامي امارت په سوله ییزې پالیسي باندې په پوهېدو سره له مخالفت څخه لاس واخیست او د سمنګانو ولایت په دره صوف کې د اسلامي اردو له مجاهدینو سره یو ځاي شول.
دغو قوماندانانو هر یو رئیس جمعه، حاجي محمد صدیق، قوماندان خاني، قوماندان ملا جمعه، قوماندان عبدالقیوم، قوماندان غلام محمد، قوماندان عبدالرسول او قوماندان بابه خان د خپلو دوه سوه پنځلسو تنو وسله والو افرادو په ګډون د سمنګانو ولایت په دره صوف کې له مخالفت څخه لاس واخیست او د اسلامي امارت ٤ مخ

شوراي عالي ستره محکمه تدویر یافت

شوراي عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد ثاقب قاضي القضات و رئیس ستره محکمه ا.ا.ا در مقر ستره محکمه داير گردید.
در آغاز شورا بعد از آنکه آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید محترم قاضي القضات روي موضوعات و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نمودند که در بخشي از سخنان عالمانه خویش فرمودند : قضات محاکم باید تنها به علم و دانش خود اعتماد نکرده و در فیصله ها و اجراات خویش به معلومات سابقه شان اکتفا نه نمایند بلکه در هر موضوع و در هر فیصله باید توفیق خداوند «ج» را خواسته باشند و هم باید براي هر ص ٤

دا افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو محترم وزیر :

د قطر له مشهور عالم دکتور یوسف قرضاوی سره وکتل

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل پرون د قطر له مشهور عالم او مفتی محترم شیخ یوسف قرضاوی او د دغه هیواد له یو شمیر چارواکو سره وکتل او د بیلا بیلو مسالو په باب یې ورسره خبری وکړی
په مقابل کی د قطر محترم ٤ مخ

دیروز در شهر کابل :

دور دوم کمپاین خزاني واکسیناسیون فلج اطفال آغاز گردید

کابل – باختر :
دور دوم کمپاین خزاني واکسیناسیون فلج اطفال دیروز با تطبیق قطرات واکسین پولیو و ویتامین اې بالاي عده از اطفال در شفاخانه صحت طفل توسط محترم ملا محمد عباس اخند وزیر صحت عامه آغاز گردید.
محفل با تلاوت آیات از قرآن مجید آغاز گردید سپس دور دوم کمپاین خزاني واکسیناسیون پولیو یا فلج اطفال با چکاندن قطرات واکسین پولیو و ویتامین اې در دهان عده از اطفال توسط محترم وزیر صحت عامه و نماینده ص ٤

شارژدافیر کشور ترکیه

کشور ترکیه هیچگاه اجازه نخواهد داد تا از قلمرو آنکشور علیه افغانستان تجاوز صورت گیرد

محترم معین وزارت خارجه قبل از ظهر دیروز با شارژدافیر کشور ترکیه در افغانستان که جدیداً درین پست تقرر حاصل نموده است ملاقات نمود.
طی این ملاقات عالي رمشن شارژدافیر کشور ترکیه در رابطه به روابط و مناسبات تاریخي ص ٤

در ایالات متحده امریکا :

اختلاف بر سر شـمارش آراء شـدت یافتـه اسـت

اختلاف بر سر نحوه شمارش آراء در انتخابات ریاست جمهوري ایالات متحده امریکا شدت یافته و موضوع با کسب جنبه حقوقي به قاضي و محکمه محول شده است.
به گفته منابع خبري المان و امریکا جمهوریخواهان با شمارش آراء بوسیله دست در ایالت فلوریدا مخالفت نموده و یک قاضي آن ص ٤

دلوړو زده کړو په وزارت کی :

د درسي پلانونو د عملی کولو موضوع وڅیړل شوه

کابل – باختر :
د درسي پلانونو د عملي کولو او د پوهنځیو د محصلانو د ازموینو د اخیستلو موضوع پرون د هغې غونډې په ترځ کې وڅېړل شوه چې د لوړو زده کړو د محترم وزیر په مشرۍ جوړه شوه. ٤ مخ

سعودی عربستان له اسلامی ملکونو څخه له اسرائیلو سره د مقاطعی غوښتنه وکړه

سعودي عربستان له ټولو اسلامي هېوادو څخه وغوښتل که چېرې صهیونیستي رژیم خپل پایتخت له تل ابیب څخه د بیت المقدس ښار ته ولیږدوي له دغه رژیم سره خپلې اړیکې وشلوي. ٤ مخ

د روحانیه مدرسی له طالبانو سره مرسته وشوه

کابل – باختر :
زموږ یو تن دیندار هیوادوال په دې وروستیو وختو کې د ګردیز په ښار کې د جامیه عالیه روحانی مدرسی له طالب العلمانو سره د دیرشو ملیونو افغانیو نغدو پیسو او د یو شمیر دیني کتابونو مرسته کړیده
زموږ یو تن دیندار هیوادوال محترم حاجی فدا محمد په دې وروستیو وختو کې د ګردیز ٤ مخ

په دوحه کې :

د اسلامي کنفرانس د خبرو دوهم پړاو پیل شو

داسلامي هیوادونو د کنفرانس د سازمان د مشرانو د خبرو دوهم پړاو پرون د قطر د پلازمېنې دوحې په ښار کې پیل شو.
په دغو خبرو کې د نړیوالو سازمانونو مشرانو او استازو هم ګډون کړیدي.

محترم مولوي عبدالرقیب وزیر شهدا و عودت مهاجرین ا.ا.ا طي کنفرانس مطبوعاتي گفتند :

مسدود شدن تورخم مشکل ایالتي بوده و به سـطح دولت پاکـستان مطرح نیست

واکنش ا.ا.ا را در قبال مسدود شدن سرحد تورخم (بین افغانستان و پاکستان) در مقابل مهاجرین افغان محترم مولوي عبدالرقیب وزیر شهدا و عودت مهاجرین ا.ا.ا بعد از ظهر دیروز طي یک کنفرانس مطبوعاتي در مقر وزارت امور خارجه به ژورنالستان داخلي خارجي توضیح و تشریح نمود.
وي ضمن بیان این مطلب اظهار داشت : امروز چارم حصه نفوس کشور ما مهاجر و هر پنجم باشنده این ملک معلول مي باشد، چنانچه همین حالا بیشتر از یک ملیون و سه صد هزار افغان تنها در کشور پاکستان مهاجر مي باشند.
وي افزود : خشکسالي حاکم و صدور فرمان اخیر عالیقدر امیر المومنین مبني بر منع کشت کوکنار در کشور از جمله دلایلي بشمار میروند که درین‌اواخر به رقم مهاجرین افغان در پاکستان افزایش بخشید، چرا که کشت کوکنار بهترین در آمد دهقانان افغان در داخل کشور تلقی میگردید و از آنجائیکه امروز این امر مورد منع قرار گرفت از همین وجه اکثر افغانها زندگي شان را خارج از کشور ترجیح میدهند و مهاجر میشوند.
نامبرده علاوه داشت : از آنجاییکه اطلاع گرفتیم حکومت پاکستان اخیراً سرحد تورخم راد ر مقابل ورود افغانها به پاکستان مسدود اعلام داشته است، ما بار ها اعلام داشته ایم که ا.ا.ا هیچگاهي نیکي هاي حکومت و مردم پاکستان را به بد فراموشي نه سپرده و نمي سپارد؛ بناً ا.ا.ا از دولت پاکستان صمیمانه تقاضا دارد تا حسب مراودات نیک سیاسي و دیپلوماتیک خویش با جانب ا.ا.ا درین زمینه از الفت و دوستي کار گرفته تجدید نظر نماید، هکذا ا.ا.ا خواهان کمک هاي هرچه بیشتر ملل متحد و سایر مدعیان حقوقي بشر در قبال از سرگیري عودت مهاجرین افغان از پاکستان شده تا باشد بار ص ٤

د اسلامی امارت موظف هیات د میمنی ښار ته ورسید

کابل – باختر :
د افغانستان د اسلامی امارت د محترم مقام له لارښوونې سره سم د هیواد د شمال د سیمو د ولایتونو د عالمانو د شورا ګانو د چارو د څېړنې په خاطر په دې وروستیو وختو کې یو هیأت د میمنې ښار ته ورسید.
دغه هیأت د شمال د حوزې د عالمانو د شورا د لوی رئیس محترم مولوی عبدالجبار په مشرۍ د ٤ مخ

در شهر هاگ :

کنفرانس محیط زیست منعقد گردید

کابل – باختر : یک کنفرانس حفظ محیط زیست دیروز در شهر هاگ افتتاح و بکار آغاز نمود. درین کنفرانس طرفداران حفظ محیط زیست دیپلوماتها وزراء و صاحبان صنایع به نماینده گی بیش از یک صدو هفتاد کشور جهان گرد آمده و تلاش خواهند کرد تا معاهده کاهش گاز هاي آلوده کننده موسوم به گاز هاي گلخانه یي را تکمیل نماید. به عقیده بسیاري از دانشمندان این قبیل گاز ها باعث گرم شدن کره زمین شده و در وضع جوي غیر عادي و خطر ناک سهم دارد.

محترم مولوي محمد آصف معاون تدریسي دارالایتام در مصاحبه با «شریعت»

حوائج دارالایتام حدود ۸۰٪ از جانب وزارت معارف ا.ا.ا تمویل میگردد

موسسات خیریه بین المللي نیز در بخش هاي صحت، صنایع دستي،قرطاسیه باب و مواد محروقاتي با ما همکاري دارند

شریعت : خوانندگان عزیز! خبرنگار ما به سلسله تهیه گذارشات خویش از موسسات و ادارات مختلف امارتي و عام المنفعه کشور اینبار سري به ریاست دارالایتام زده و با محترم مولوي محمدآصف معاون تدریسي آن موسسه در مورد چگونگي کارکرد ها و فعالیت هاي شان مصاحبه را انجام داده است که به توجه شما رسانیده میشود.
در آغاز محترم مولوي محمد آصف در مورد تاریخچه تاسیس دارالایتام چنین توضیحات ارائه داشتند : ریاست دارالایتام کنوني در سال ۱۳۶۰ تحت نام پرورشگاه وطن تأسیس و به فعالیت خویش آغاز نمود و الي ختم همان سال تعداد اطفال یتیم در این موسسه به ۱۵۰۰ تن رسید و الي سال ۱۳۷۱ تقریباً به همین کمیت فعالیت هایی خوي شرا ادامه میداد. درآن وقت دارالایتام در دو بخش یعني مقابل سفارت شوروي وقت و افشار سیلو فعالیت مینمود. بعد از سال ۱۳۷۱ پرورشگاه وطن به دارالایتام مسمی گردید. که در همین زمان نسبت جنگ هاي ذات البیني کاملاً به پراګندگي مواجه گردیده از فعالیت باز ماند
موصوف در پاسخ به این پرسش خبرنگار ما که اطفال تحت کدام شرایطي میتوانند حق شمولیت را در دارالایتام حاصل نمایند چنین اظهار داشتند : مطابق به اساسنامه موجوده دارالایتام آنعده از اطفالیکه پدران شان شهید و یا به مرگ طبیعي وفات نموده باشند، اطفالیکه پدر و مادر شان معلول و یا معیوب بوده باشد همچنان اطفالیکه والدین شان به مواد مخدر معتاد باشند و داراي سنین ۱-۱۲ سال بوده باشند به دارالایتام جذب و تحت مواظبت دایمي و تعلیم و تربیه قرار میگیرند.
موصوف اضافه کردند : مواد مورد ضرورت ریاست دارالایتام در حدود تقریباً ۸۰٪ از طرف وزارت معارف ا.ا.ا تمویل میگرد. قابل یاد آوریست که یک تعداد از موسسات خیریه بین المللي نیز در بخش هاي صحت صنایع دستي ، قرطاسیه باب و مواد محروقاتي ریاست ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

اسلامی سرمشریزه د امت په وړاندی درانه مسؤلیتونه لری

د اسلامی تعلیماتو له مخی د مسلمانانو خپل منځی یو والی او اسلامی وروړګلوی یو خو را مهم اسلامی اصل دی په دی مانا چی د نړی ټول مسلمانان به لکه د یوه تن په شان په هر درد او غم کی سره شریک او یو پر بل به خوږمن وی .
په قطر کی د اسلامی هیوادو د مشرانو روانه غونډه ظاهراً د همدی اسلامی ګروهی یوه ښه ځرګندونه ده او له همدی کبله نوموړی ښاغلی مشران په تینګه دا ذمه واری لری چی د ۲ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷۴ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ۶۲۸۵۹
جاري حساب : $\frac{٤.٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

ټول اسلامي امت د رنځونو په درملنه کې سملاسي اغېزمن ګامونه واخلي او د ټولو راپېښو کشالو په وړاندې یو متحد دریځ غوره کړي دا چې نن سبا د نړۍ مسلمانان په هر ځای کې د کفارو د مختلفو پلمو او لاس وهنو له لاسه په سخت کړ او آخته او تر منځ یې د اختلاف او نفاق اور ونه بل دي، تر ټولو مهم چلنج دی چې ښایي مشران یې ښه په غور څېړنه وکړي نړیوال کفر هم چې د مسلمانانوله یووالي سخت په ویره کې دي، تل دا هڅې کوي چې د اسلامي امت تر منځ بدګوماني را پیدا او یو له بله یې وویروي تر څو په دې ډول وکولای شي په ډادمنه توګه د اسلامي هېوادو له شتمنیو استفاده وکړي یوه بله مهمه ستونزه چې د رواني غونډې په مخکې پرته ده د قدس کشاله ده چې ټولو مسلمانانو ته خورا د اندېښنې وړ یوه لویه موضوع ده او همدا اوس د صهیونیست رژیم یرغل ګر پوځونه د مظلومو فلسطینیانو په وژنه او ترټنه لګیا دي ددغې ستونزې هوارې هم د مشرانو په یوه کلک او غوڅ دریځ سره ډېر په آسانه تر لاسه کېدای شي او دا ځکه چې یهود د لویدیځ په مېروی دا غورځې پرځې کوي او لویدیځ والو بیا د عربو تېلو ته کچکول نیولی .

همدارنګه بله حساسه موضوع د افغانستان ده چې له تیرو دوه ویشتو کلو راهیسې د روسانو د تیغ تېرې او نن سبا د هغوی د ناروا لاس وهنو له کبله د سختو جګړو اورونه پکې بل او د یو ملیون افغانانو په وژل کېدو لا بیا هم دا ملت آرام او کرار ته نه پرېښودل کېږي او لا هم د روسانو د سختو ګواښونو سره مخامخ دي دا په داسې حال کې چې ټول اسلامي هېوادونه د روسانو دغه لاس وهنې په ړندو سترګو ویني او لا د همدې سرمشریزې په مهال په افغانستان د مستقیم یرغل ګواښونه کوي اوس نو په کار ده چې د اسلامي هېوادو مشران خپل دیني او تاریخي مسولیتونه درک او د ټولو یرغل ګرو په مقابل کې په زوورتیا سره یو داسې دریځ غوره کړي چې اسلامي پرګنو ته د منلو او تایید وړ وي په دې کې شک نشته چې که مشران له بېلا بېلو کفري هېوادو سره د ځانې اړیکو خیال ونه ساتي نو په یو غوڅ او عملي اقدام کې به یې ټول مسلمان امت په کلکه ملاتړ وکړي او ښایي دا به هر چا ته څرګنده وي چې دا اوس هم په اسلامي نړۍ کې د سرښندونکو مجاهدینو څه کمی نشته خو همدغه په دېن کې ځېني سست رژیمونه دي چې د هغوی مخه یې ډب کړي اود یرغل ګرو کفارو سپین سترګی ته لاره هواره شوې ده په همدې ډول اسلامي نړۍ د خدای فضل دی په قدرتي وسیلو هم مالامال او له اقتصادي پلوه هم هیڅ کومه نیمګړتیا نه لري نو که چېرې زموږ مشران خپل ځان وپېژني او بیا د خپل اسلامي امت رنځونه وځاري او د حل لپاره یې مناسب ګامونه واخلي، هیڅکله یې له وسې وتلې خبره نه ده او ډېر ژر به دا مشران هم په خپلو ولسو کې بشپړ باور تر لاسه او د امت تر منځ به د اسلامي اخوت مزي ټینګ شي مونږ په داسې حال کې چې د لوی خدای جل جلاله نه هغوی ته د خپلو درندو مسولیتونو د سرته رسولو توفیق غواړو ، په خپل وار یو ځل بیا غوښتنه کوو چې باید دا غونډه یوازې د تشو خبرو او شعارونو غونډه نه بلکې په رښتینې ډول د اسلامي امت د هیلو سرته رسوونکې سرمشریزه وي .

افغاني ټولنه او تعصبات

عبدالجلیل وجدي

ټولنپوهان د داسې یوې ټولنې لپاره چې بېل، بېل قومي یا نژادي ګروپونه په یوله بل سره دوړور ولیو په بیلو،بیلو تنو اوتنستوسره اوبدل شوی یاګنډل شوي وي د موزائیک (Mosaic)اصطلاح په کاراچوي خومونږ ددغسي یوه په زړه پورې او ښکلي اجتماعي ماهیت لپاره یوه ډېره ښه اصطلاح لرو چې هغه زموږ داجتماعي ژوندواوملي فرهنګ سره په هر لحاظ مناسبت لري .دا اصطلاح د«غالي نخښ» یا«نقش» قالین ده یقیناًچې په افغانستان کې بېل، بېل قومونه اونژادونه دغالي دنقش په څېرپوله بل سره اوبدل شوي دي .زموږپه تاریخي هېواد کې داسې ولایت نشته ،چې په هغه کې دافغانستان بېل ،بېل قومونه په لږ ها زیات شمېر کي موږد نه وي دا قومونه له ډېروپخوانوزمانو څخه یودبل ترڅنګ نژدې پراته دي . دې قومونو اوس خپل نژادي خصوصیات تر ډېره حده دلاسه ورکړي دي اوهیڅ قوم داسې ادعا نشي کولای چې نژادیې خالص دی یوازې ځینو کلتوري مشخصاتو هغوی دقومونو په ښه په نخښه کړي غوندي دي .

داکلتوري مشخصات هم دافغانانو دعمومي اوشریک کلتور د داسې اجزاوښه لري،چې دسوسیولوجي په ژبه فرعي یاضمني کلتور - (sub culture)بلل کېږي داقومي تنوع چې زیاتره جوړې یې سره شریکې دي، یوازې زموږ له پاره نه بلکې د خارجي هېوادو د څېړونکو له پاره هم ډېره په زړه پورې وه او ده په رښتیا چې دداسې یو هېواد کلتور چې د تمدنونو د تقاطع او تشعشع ځای لقب یې ګټلی وي ډېر مهم او په زړه پورې دی، چې یو له بل سره اوبدل شوي او ګنډل شوي اجزا لري.

باید ووایو چې د څېړنو کارد خو لې دځیروبه څېر آسانه او ساده نه وي د دقیقو احصائیو نشتوالي د افغاني او خارجي محققینو کار له ډېرو ستونزو سره مخامخ کړی دی خدای شته زموږ یو شمیر ځوانانو په ټولنپوهنه کښې ښه تعلیمي سندونه او ور سره کافي پوهنه تر لاسه کړې وه خو د دوی له پاره داسې امکانات ډېر کم وو چې کلي په کلي وګرځي او د افغاني ټولنې اجتماعي خصوصیات له نژدې څخه مطالعه کړي.

زموږ د جهاد لسیزې نه یوازې نسبتاً راکده افغاني ټولنه د ولاړو اوبو په څېر وچپوله بلکې ټوله سیمه یې هم داسې وخوځوله چې په ځینو ځایونو کې یې د نړۍ نقشه بدله کړه . موږ دلته د نورو په باره کې ډېرې خبرې نه کوو غواړو، چې د خپلې خوځېدلې افغاني ټولنې نتیجې په تیره هغه پایلې تر غور لاندې ونیسو، چې زموږ له دې څېړنې سره اړیکې لري.

ماته شخصاً ډېره په زړه پورې موضوع دا وه، چې په پکتیا کې د ځدرانو عنعنوي مېلمه پالنې هزاره ګان، پښتانه، ازبکان، تاجیکان، په یوه د سترخوان لکه د یوې مور د زامنو په توګه راغونډول. کله چې زه د ګران هیواد څخه په مهاجرت راوتلم دوی شپې د ځدرانو په کلیو کښې پاتې شوم په دې موده کې به د هر ماښام د لمانځه نه وروسته په ځدراني لهجه کې راته ویل کېدل د وشوه ا ته به له ماسره ځې، په دې توګه به په جومات کې تقریباً ۴۰-۵۰ تنه ستړي ستومانه مسافر (مجاهدین یا مهاجرین) په کورونو کې ویشل کېدل او هر چا به په برخه کې وررسیدلي مېلمانه خپلو کورونو ته بېول او په خپل کور کې به یې ډوډۍ ورکوله ما به کتل، چې په یو دسترخوان هزاره، ازبک، تاجیک او پښتون راغونډ کړي شوي دي.

ځدران له دې امله ډېر بې شتو خلک دي، چې زراعتي ځمکې نه لري ځنګلونه یې حتی د جهاد په لومړنیو کلونو کې ډېر لغړ شوي ښکارېدل، دوی د خپلو ځوانانو یوه برخه د جهاد له پاره چمتو کړې وه او بله برخه یې د خلیج هېوادو ته د مزدورۍ له پاره استوله دوی له مزدوریو څخه لاس ته راوړې ډوډۍ د افغانستان له ټولو قومونو سره شریکه کړې وه د جهاد په موده کښې به د ځدرانو ټول جوماتونه د مسافرو څخه ډک وو ځکه د افغانستان د زیاتو برخو مجاهدین یا مهاجرین د ځدرانو په دره کښې تېرېدل، هغه وخت د سالنګ لاره بنده وه د شمالي صفحاتو خلک به هم د هزاره جات، وردګو، لوګر یا خروار له لارو تلل او راتلل، د انسانانو دا لوی، لوی بهیرونه به زیاتره د ځدرانو په درو کې سره یو ځای کېدل په دې خلکو کې به هر قوم او قبیلې ته منسوب کسان لکه ازبکان، هزاره ګان، تاجیک او پښتانه شامل وو زما له پاره ډېره عجیبه خبره دا وه چې هزاره ګان څنګه دومره منل شوي وو چې د ځدرانو له نظره کافران وو خو اوس دوی پر یوه دسترخوان او په یوه لوښي کې له دوی سره ډوډۍ خوړله سړی چې خپرې شوې اوازې د اصلي حقایقو سره مقایسه کړي نو پوهیږي چې د افغاني ورونو قومونو تر منځ د کرکو او بدبینیو د راپیدا کولو له پاره ډېر کوښښونه شوي وو لاروان دي کیږي .

په هر حال دا یوازې ځدران نه وو چې د افغانستان د بیلو بیلو قومونو د مېلمه پالنې ویاړ یې درلود بلکې د جهاد په موده کې د ټولو لویو مشهورو لارو په څنګ کې پرتو قومونو خپله ډوډۍ او خپل دسترخوان له هزاره ګانو تاجیکو، پښتنو، ازبکو، نورستانیو، بلوڅو او نورو قومونو سره شریک کړی دی

ددې لیکنې په یوه تېره برخه کې د هغو مطالعاتو له مخې چې یو زیات شمېر ټولنپوهانو کړې دي داسې یوه نتیجه تر لاسه شوې وه چې په امریکا کې د تعصباتو تر ټولو لوی عامل «سیالي او نابرابري» ده خو که په افغانستان کې همدومره ټولنپوهان همدومره زیات مطالعات وکړي زه باور لرم چې کټ مټ هماغسې نتیجه به ورنکړي چې په امریکا کې یې ورکړې ده دا ځکه چې زموږپه هیواد کې اقتصادي رقابت خپل ځای تر ډېره حده اخلاقي سیالي ته پرېکړې دی په افغانستان کې هر یوه کوښښ کړی دی چې د خیر اوښېګڼو په کارونو کې ځانونه د مخه کړي ښایي ځینې کسان دا فکر وکړي چې افغانستان پانګه واله وده نه ده کړې چې اقتصادي رقابت ته یې کم ارزښت ورکړی دی البته هغه وخت چې د جهاد په ماهیت کې تغییر راغی د هېواد په ځینو برخو کې دا جاري او تیکي جګړې زیاتې شوې نو له بده مرغه په ملي اخلاقو کې هم تغیرات راغلل ورسره ورو ورو د افغانستان د قومونو ترمنځ د تعصب توري کرښې وایستلې شوې.

زه دا نه وایم، چې د افغانانو ترمنځ د ژبې، مذهب او نژاد له امله اختلافات نشته خو دا اختلافات لکه څنګه چې زموږ ملي دښمنانو فکر کړی دی دومره ژور نه دي.

پناهندگي اقتصادي

مهربان
۲

کاریابی افغانیها در امریکا و کشور های اروپایی

یکي از ویژه عواملیکه افغانها خوبتر در امریکا و کشور هاي اروپایي پذیرفته میشوند استفاده اعظمي از نیروي بشري آنها در انجام کار هاي درجه اخیر کشوري بوده که پیش بردن اینگونه کار ها براي اروپائیان حقیقتاً طاقت فرسا و در عین حال کسر شان مي باشد و از همین خاطر آنها افغانها را به اداي انجام چنین کار ها خیلي مناسب میدانند. اشتغال کاري افغانها را در امریکا و اروپا میتوان چنین خلاصه کرد :

- پاك كاري هوتل ها و شستن ظروف
- خاکروبي دفاتر
- توزیع اخبار
- تکسي راني
- باربري و حمالي
- ساختماني
- قارمداري
- چوکیداري

جالبتر از همه مخدومین حیوانات شخصي اروپائیان از قبیل مستخدمین سگ ها و پشك ها و امسال اینگونه کار ها که عفت قلم اجازه تسوید آنرا به نویسنده نمیدهد

البته کار ها در آنکشور ها عموماً در انحصار اشخاص و یا سکتور هاي خصوصي بوده و کارگران را در بدل ساعت مزد میدهند .

آن ... افغانهایکه با لسان و تکنالوژي کشور مقیم آشنایي کامل ندارند نسبتاً کار هاي نیمه آبرومندانه نصیب حال شان است . مثلاً مزدوري در مغازه ها و سوپر مارکیت هاي شخصي و ... اما آنانیکه در عدم آگاهي لسان و دسترسي به تکنالوژي عصر بسر میبرند و مشمولین این کتگوري هم در اکثریت است با مشکلات زیادي مواجه اند، اینها اکثراً کار هاي شاقه و طاقت فرساي شفت یا تایم شب را انجام میدهند؛ سرویس و پاك کاري بار ها (شرابخانه ها) ، شستن و پاك كاري ظروف نان هوتل ها و چوکیداري عمده ترین کار هاي شب افغانان را در اروپا و امریکا تشکیل میدهد .

کار در امریکا و کشور هاي اروپایي اساساً بر محور شفت استوار است یعني در طول شبانه روز در یك هوتل ۳-٤ شفت کار صورت میگیرد .بدون شك یگانه چیزیکه در آنجا کم میسر است : «وقت» است، به این معنی که وقت فراغت و یا بیکاري را ندرتاً میتوان در آنجا بدست آورد آن هم صرف در طول هفته روز هاي شنبه و یکشنبه که ایندوز ها تعطیل مذهبي یا رخصتي سرتاسري میباشد و اعضاي خانواده موفق میشوند که یکدیگر خویش را بعد از طي یك هفته در خانه خویش ملاقي شوند و از حال و احوال یکدیگر واقف گردند.

در آنجا همه اعضاي خانواده مکلف به انجام کار مي باشند و هر یك به زعم خویش اعم از زنان و مردان مجبور اند کار بکنند آن هم کار بیشتر تا بتوانند از یکطرف زندگي شبانه روزي خویش را تأمین نمایند واز جانب دیگر وابستگان در انتظار شان را در افغانستان و پاکستان نیز به اصطلاح سیروم بدهند .

افغانها به هر سویه و هر موقف علمي و اجتماعي که اند از این کشور ها مزدور بیش نیستند آن هم مزدور شخصي !! انسان آن عزت و شرافتمندي را که در وطن خویش در بین فامیل، دوستان و هموطنان خود دارد هرگز در دیار جلاي وطن صاحب شده نمیتواند، در آنکشور ها آنانیکه در وطن شان پهلوي نام عزیز و ارجمند شان القاب دیگر چون معلم صاحب، جنرال صاحب، قاضي صاحب ، کارنوال صاحب و ... دارند در دیار هجرت این القاب از پهلوي اسما شان حذف میگردد و فقط مزدور و کارگر خطاب میشوند .

حال بیایید بدانیم که افغانهاي مقیم در امریکا و اروپا در چه وضعیت اجتماعي و مذهبي قرار دارند :

ادامه دارد

اخبار سپورتي

مسابقات تیم تکواندوی جوانان خاتمه یافت

مسابقات انتخاباتی تکواندو که به اساس پلان وجنتری فدراسیون مربوطه کمیته ملی المپک جهت گزینش تکواندوکاران نخبه برای تیم تکواندوی جوانان کشور باشرکت ۲۰۰ تکواندوکار ازتمام انجمن های ورزشی ،کلپ های آزاد ومؤسسات تکواندوی شهر کابل که درترکیب آن کلپ های استادحیدری ،استاد منیراحمد ،استاد حبیب ،استاد رفاه ، حضرت عمرفاروق ،میوند ،کلپ تکواندوی استخبارات ،پرویزفاروقی ،چهاردهی ،وتمام نمایندگی های کلپ های متذکره شرکت داشتندبتاریخ ۳ عقرب در ستدیوم ورزشی کابل اغازگردید.

بعد از ارزیابی دقیق هیئت ژوری مسابقات ،انجمن تکواندوی حیدری بااخذ ۸۳ امتیاز درسکوی قهرمانی یعنی مقام اول ،کلپ های استاد منیراحمد واستاد شیرمحمد رفاه بااخذ ۱۱ امتیازمشترکا حایزمقام دوم وکلپ استاد عفور بااخذ ۷ امتیاز حایز مقام سوم گردید .

دورفاینل این مسابقات که بروزشنبه ۸ عقرب درستدیوم ورزشی تدویریافت بانتایج قناعت بخش بپایان رسید و کپ قهرمانی مقام اول توسط سکرترجنرال کمیته ملی المپیک برای انجمن قهرمان تکواندی حیدری داده شد همچنان دیپلوم های ورزشی ،تحسین نامه ها مدال ها وجوایز ازطرف ریاست فدراسیون تکواندو بورزشکاران ممتاز وتیم های برنده توزیع گردید .

وجیزه : شادمانی ونشاط بیشتر مولود لذت نیست بلکه زائیده نیرومندی است .

ستاره تکواندوی سال انتخاب گردید

استاد میرزمان باور رئیس فدراسیون تکواندوی افغانستان ستاره تکواندوی سال را انتخاب کردند . وی اظهارداشت .مسابقات تکواندو که بتاریخ ۳ عقرب جهت گزینش تکواندو کاران لایق برای تیم جوانان آغاز گردیده بود بروزشنبه ۸ عقرب خاتمه یافت بعد از ارزیابی دقیق هیئت تدویر مسابقات محترم سمیراحمد فرزند نصیر احمد متعلم صنف دهم مدرسه عبدالهادی داوی دارنده کمربند سیاه (پوم) که عضویت (کانون ورزشی تکواندوی جیدوکوان استاد آرین خیبر)رادارامیباشد بعنوان خوش تکنیک ترین تکواندو کار تیم جوانا ن انتخاب وبه لقب ستاره تکواندومفتخرگردید .

مسابقات پهلوانی خاتمه یافت .

مسابقاتیم ملی پهلوانی که به اشتراک تمام کلپ های آزادومؤسسات امارتی مربوط فدراسیون پهلوانی کشورچندی قبل درستدیوم ورزشی کابل آغازگردیده بود بتاریخ ۱٤۲۰/۸/۱۲ هـ ق بانتایج قناعت بخش خاتمه یافت .

مسابقات تیم ملی تکواندو آغازگردید

مسابقات انتخاباتی تکواندو جهت گزینش بهترین تکواندوکاران برای تیم ملی تکواندو ی کشور بتاریخ ۱٤ شعبان المعظم بااشتراک تمام کلپ های ورزشی تکواندو ، موسسات امارتی شامل فدراسیون تکواندوتحت نظر هیئت باصلاحیت فدراسیون مذکور درمقرکمیته ملی المپک آغازگردید .

درین مسابقات تمام دارندگان کمربند های سیاه وبالا تر ازآن بخاطرانتخاب اعضای تیم ملی تکواندوی کشور شرکت دارند.

«جیت کان دو»

بروس لی «جیت کاندو» رابنیان نهاد ،چون احساس میکرد که فنون رزمی بیش ازحد محدوده شدم) ستهاومیگفت:مبارزه طرح دارهمیشه امکان پذیر نیست ،زیرا گاهی بعضی ازحملات پیش گیرنده بوده وآن طور که باید وشاید ظریف نیستند.

بروس لی «جیت کاندو »را ابداع نمود تابه تمام جهانیان نشان دهد که یک هنر قدیمی مستلزم تغییروتحول است. همانگونه که شب به روز وروزبه شب تغییر میابد روش مبارزه نیز باید اصلاح گردد .

بروس لی «جیت کان دو »راتوسعه داد اماهمیشه افسوس میکرد که کاش برای سبک اش نامی درنظرنمیگرفت بخاطریکه اصل لغت «جیت کان دو » به وضوح نشان میدهدکه این روش ،شکل جدیدی ازهنرهای رزمی است

بروسلی از ۱۹٤۰ تا ۱۹۷۳

بروسلی همچون شهابی مشعشع دردنیای هنر های رزمی درخشید درسال ۱۹۷۳ درحالیکه فقط ۳۲ سال داشت شهاب واردهانگ کانگ ناپدید وبامرگ ناگهانی خاموش گشت . بروسلی فراگیری فنون رزمی را با «وینگ چان» تحت نظروآموزش «ییپ من» به منظورکاهش ناامنی فردی درشهر هانگ کانگ آغازنمود . شاید بدلیل تعالیم وتربیت استادش بود که اورا تا مرزشیفتگی مجذوب خود نمود ،بطوری که بروسلی قادربه تصفیه وتزکیه روح خودشد وتوانست به آنچنان بلوغ فنی وفلسفی در رشته هنرهای رزمی دست یابد که جزبنیانگذاران این هنرها به شمارآید.

درپی مطالبات سخت وفشرده درسبکها وتیوریهای مختلف فنون رزمی ،بروسلی به درک هنرمزبورومواردِاستفادهٔ فردی از آن نایل آمد . بعد هانام «جیت کان دو »به معنی روش «مشت قاطع » رابرای این مفهوم جدید انتخاب نموداین روش نه تنها درتعلیم وتربیت جسمانی وکتابخانه بزرگ فنون رزمی اوکه حاوی بیش از(۲۰۰۰)جلدکتاب بود بلکه درتحصیلات عالیه اش نیز (به عنوان دانشجوی فلسفه دردانشگاه واشنگتن واقع درسیاتل)ازسابقه دیرینه یی برخورداراست .

مرگ بروسلی همه طرفداران هنرهای رزمی وهمه دوستداران مذکور را غرق درتعجب ونایاوری کرد . درواقع درپاسخ به تقاضا های روز افزون خوانندگان گرامی کوشش میشود درمورد مذکور اطلاعات زیاد تری دردسترس ایشان قرار داده شود.

رحیم برکی دانگلستان ماسترسپورت شو

دهیواد پیاوړی ورزشکاراودبدن دبڼکلا اتل محترم استادرحیم برکی څه موده مخکی دانگلستان دهیواد دماستر سپورتی لقب تر لاسه کړ.

دبدن دبڼکلا په هغو مسابقاتوکی چی څه موده مخکی د open heart باپرانستی زړه ترعنوان لاندی په لندن کی دایر شوی وه محترم استاد رحیم برکی دیو افغانی ورزشکارپه توگه په دغو مسابقاتوکی ونډه اخیستی وه نوموړی وکړای شول چی ددغو مسابقاتو داتل اودانگلستان دماسترسپورتی لقب ترلاسه کړی . استاد رحیم برکی زمونږدهیواد لپاره ستر وياړاودهیواد ورزش ته ستره سرمایه ده.

راپورمسابقات تدویرشده ازآغازسال ۱٤۲۱ تاکنون

شریعت:علاقمندان محترم ورزش!استاد لعل محمد سیار رئس فنی ومسلکی کمیته ملی المپک ا.ا.ا.ا درحالیکه مسابقات تیم ملی پهلوانی را ازنزدیک رهبری مینمودند درمورد چگونگی تدویر مسابقات رشته های مختلف ورزشی از آغازسال ۱٤۲۱ تاالحال به خبرنگارماچنین معلومات دادند مسابقات ماطبق پلان وپروگرام ریاست عمومی تربیت بدنی کمیته ملی المپیک وفدراسیون های مربوطه به اساس جنتری منظورشده برگزارگردیده است

مسابقات قهرمانی فوتبال بین تیم های کابل الف که در دور اول آن ۵۷ مسابقه صورت گرفت سپری شده ودور دوم آن تاکنون جریان دارد .

باید یادآورشد که دوردوم این مسابقات به سیستم لیک ازساعت ۲ ــ الی ٤ عصرهمه روزه درستدیوم ورزشی کابل ادامه خواهدداشت مسابقات (بوکسنگ وپهلوانی)درسه کتگوری بطور وقفه بی انجام پذیرفت همچنان درسال جاری مسابقات انتخاباتی تیم جوانان کونگفو درسالون آریوب ننداری تدویر یافت ،به همین ترتیب مسابقات تیم جوانا ن وتیم ملی کاراته بخاط انتخاب بهترین کاراته کاران [illegible] مرکز وولایات کشور درستدیوم ورزشی کابل انجام یافته است .به همین منوال مسابقات تیم ملی بایسکل رانی راازکوتل بگرام الی چهار راهی حاجی یعقوب تدویرداده ایم.

بخاطرشدهرچه بیشتروزش فوتبال وبه افتخار ۲۸ اسدروزاستردادااستقلال کشورتیم های ولایات هرات ،ننگرهار ،هلمند ،جوزجان ،سمنگان وتیم آریانا ی بلخ راتاالحال به مرکز دعوت نموده ایم که با تیم های مرکز مسابقات جالب ودوستانه را در ستدیوم ورزشی کابل انجام داده اند .

به افتخار ٦ میزان روز فتح کابل مسابقات چهارتیم فوتبال به سیستم (ناک اوت)نیزبراه اند اخته شد .

در رشته والیبال نیزمسابقات ۸ تیم مرکز وولایات که درجمنازیم لیسه امانی تدویر یافت قابل یادآوری است.

چندی قبل تورنمنت بوگس جهت انتخاب بهترین بوکسران برا ی تیم ملی بوکسنگ کشورودردوم مسابقات فوتبال به سیستم لیک یک گروپ در ستدیوم ورزشی کابل تدویر گردید درجریان این مسابقات تیم جوانان تکواندو تحت سنین ۲۰سال وتیم ملی تکواندو تدویر یافت. سایر رشته هاییکه تاحال باقیمانده به اساس جنتری وپروگرام کمیته ملی المپک وفدراسیون های مربوطه الی ختم سال ۱٤۲۱ بپایان خواهد رسید .

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

۳۷ داصحابو دژوند پلوشی

کله چی درسول الله «ص »خبرونه د - زیدالخیل -غوږوتونه ورسیدل اودهغه ددعوت په باب یی څه معلومات ترلاسه کړل نودخپل سفرڅاروی یی سمبال کړ ،اودخپل قوم مشران اومخور یی دیثرب اود پیغمبرعلیه السلام دکتلولپاره راوبلل .هماغه وچی هغه سره د ـ طی ـ دقبیلی یوه ډله خلک ملگری شول ، په دغه ډله کی زربن سدوس ،مالک بن جبیر ،عامربن جوین اونوروکسانو گډون درلود . کوم وخت چی ددغی ډلی کسان مدینی ته ورسیدل نو دوی نبوی مسجدته لاړل اوددروازی ترمخه یی خپل اوښان چوکړل .په دغه وخت کی چی رسول الله «ص »دمنبرد پاسه خطبه ویله نودهغه خبرو او وینا وته دمسلمانانو غوږنیول او ورسره ټینگه علاقه ښودل ددلی دویری اوحیرانتیا سبب وگرځید اوبیا چی دغی ډلی ته درسول الله «ص »پام شونو مسلمانانوته یی داسی خطاب وکړ : زه تاسی ته له عزی اوله هرهغه شی څخه چی تاسی دهغه عبادت کوی ښه یم . زه تاسو ته له تراوبن څخه چی تاسی دهغه عبادت کوی ښه یم .درسول الله «ص »خبرواو ویناؤ په زیدالخیل کی تاثیروکړمگردهغه ملگرودالهی پیغمبردخبرواو ویناؤ په باب دوه مختلف دریځونه غوره کړل. ځینوحق ته غاړه کیښوده ،اوهغه ته یی مخ کړ ،اوځنو ورڅخه مخونه وگرځول اولوبی یی وکړه .یوه ډله په جنت کی شوه اوبله ډله په دوزخ کی شوه زربن سدوس چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په کتلوۇچی هغه دلورمقام خاوند اومؤمن زړونه وربالدی راټول شوی اومهربانه سترگی ورته کتونکی دی .نوپه زړه کی یی حسد پیداشو ، اوویری یی په زړه باندی غلبه وکړه ،اوبیا یی خپلوملگروته وویل: زه دغه سړی وینم چی دی به خامخا دعربو دغاړومالک شی ، او په الله سوگند ،زه به هغه دخپلی غاړی مالک ونگرځوم بیا یی شام ته مخه کړه ، اودخپل سرویښتان یی وخریل ، اونصرانیت یی قبول کړ .مگر زید اونورپه بل حال کی ۇ :رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلی خطبی څخه لا خلاص نه ۇ چی زیدالخیل ـ چی دښه صورت اولوړی تنی خاوند ۇاوچی کوم وخت به پراس اوبا پرخره باندی سپورۇنو پښی به یی پرځمکی باندی لیکه جوړوله ـ په خپلی لوړی تنی سره دمسلمانانو په ډله کی ودرید ،اوپه لوړآواز یی داسی وویل :یامحمد!اشهدان لااله الا الله وانک رسول الله. پاک رسول ورته راغی او ورڅخه یی داسی پوښتنه وکړه :ته څوک یی ؟ هغه وویل :زه زیدالخیل دمهلهل زوی یم .رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل :

بلکه ته زیدالخیریی نه زیدالخیل .الحمدلله چی ته یی دهواری اوغرو څخه راوستلی ،اوستا زړه یی داسلام دپاره نرم کړ .زیدالخیل له دی وروسته په زیدالخیرسره وپیژندل شو .بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم زیدپه داسی حال کی چی عمربن الخطاب اویوه ډله اصحاب ورسره و ،خپل کورته بوته اوپه کورکی یی ورته تکیه کیښودله مگرهغه ته درسول الله صلی الله علیه وسلم په حضورتکیه کول سخت ښکاره شول .نوهماغه ۇ چی الهی پیغمبرپه ورته تکیه کیښودله اوهغه یه نه منله تردی چی دغه کارتر دریو ځلوتکرارشو .کله چی دمجلس کسان ځای په ځای شول نوالهی پیغمبرزیدالخیرته وویل :ای زیده ! په تاکی دوه خصلتونه دی چی هغه دالله اودهغه درسول خوښ دی .زیدالخیر وویل :ای دالله رسوله !هغه دوه څه دی ؟رسول علیه الصلاة والسلام ورته وویل :هغه وقاراوحلم دی (یعنی درنښت اوتحمل)زیدالخیر وویل :الحمدلله چی زه یی په هغه څه گرځولی یم چی هغه دالله اودهغه درسول خوښ دی .بیایی رسول الله «ص »ته وکتل اوویی ویل :

ای دالله رسوله !دری سوه غښتلی سوریدونکی زلمیان رامسره کړه ،اوزه تاته ددی ضامن یم چی هغوسره د رومیانوپرهیواد یرغل وکړم اودهغوی څخه څه په لاس راوړم .رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه همت لوړی وگاڼه او ورته یی وویل :ای زیده ! ستاخبرڅومره دیردی . . . ته کوم سړی یی ؟!

بیا دزید سره دهغه دقوم ټولوورسره کسانواسلام ته غاړی کیښودلی او مسلمانان شول . کله چی زید دخپلو ملگروسره خپل هیواد (نجد)ته دبیرته ستنیدلو اراده وکړه رسول علیه الصلاة السلام ورسره وداع وکړه اوویی ویل :

داکوم سړی دی ؟ادده په څومره شان وی کـه دی دمدینی له وبا څخه خوندی پاتی شی !په دغه وخت ،په مدینه منوره کی تبه موجوده وه .زیدلاله مدینی څخه وتلی نه ۇ ،چی په وبا اخته شو او خپلوملگروته یی وویل :مادقیس له هیواد څخه په ځنگ کړی ، ځکه زمونږپه منځ کی دجاهلیت دوخت دیی عقلی غیرتونه موجودۇ ،اوپه الله سوگند ،زه به تر هغه وخته چی دالله تعالی حضورته ورځم دهیڅ مسلمان سره په وته جنگیږم .زید د خپل هیواد (نجد)لاره ونیوله اوسره ددی چی شیبه په شیبه دهغه تبه سختیدله هغه داهیله کوله چی خپل قوم وویني او الله تعالی دهغه په لاس هغوی ته اسلام وربه برخه کړی هغه کوښښ کاوه چی له مرگ څخه روغبی شی اومرگ دهغه څخه ،مگرمرگ په هغه باندی روغبی شواوهغه خپلی وروستی سلگی په لاره کی ووهلی اودهغه داسلام منلو اودمړینی تر منځ داسی وخت نه ۇچی ورڅخه گناه پیښه شی .

پاتی لری

حوائج دارالایتام حدود ۸۰٪ ...

دارالایتام را کمک و همکاري میکنند ولي کمك هاي آنها نیز در این اواخر کاهش یافته است. صرف پروگرام غذایي جهان آنچه که در اختیار دارد آنرا بي دریغ و سخاوتمندانه در خدمت ما قرار داده است و سلسله کمک هاي بشري شان همچنان ادامه دارد.

وي در مورد چگونگي پیشبرد تعلیم و تربیه اطفال شامل دارالایتام چنین گفتند: ا.ا.ا با وصف پرابلم هاي زیادي اقتصادي که بآن مواجه است به موسسه دارالایتام توجه زیادي مبذول داشته است از اثر شفقت و مهرباني مقامات ذیصلاح هم اکنون حدود تقریباً ۸۰۰ طفل یتیم از سنین ۲-۱۲ ساله در این دارالایتام شامل و تحت اعاشه و اباته و تعلیم و تربیه قرارد اشته و بدو بخش تقسیم گردیده اند بخش درالحفاظ که در علاوالدین کارته سه موقعیت دارد به تعداد ۴۵۰ طفل در اين مصروف حفظ قرآن عظیم الشان میباشند و مضامین دري و حساب نیز برایشان تدریس میگردد. همچنان بخش مدرسه دیني ما در تهیه مسکن موقعیت داشته و مطابق به نصاب تعلیمي منظور شده مدارس دیني و دارالحفاظ هاي وزارت محترم معارف ا.ا.ا در آن جریان تدریس توسط استادان ورزیده و مجرب به پیش برده میشود.

موصوف خاطر نشان ساختند: ریاست دارالایتام بر علاوه فعالیت خویش در مرکز یعني کابل در ۲۵ ولایت کشور نیز نماینده گي داشته که تعداد بیشتر آنها از اثر جنگهاي ذات البیني خسارهند گردیده و حتي تمام دارایي هاي شان به غارت و یغما برده شده است. در سال ۱۴۲۰ از اثر توجه دلسوزانه مقامات ذیصلاح ا.ا.ا مدیریت هاي عمومي دارالایتام ها مجدداً در ولایات کشور فعال گردیدند و ضروریات شان از بودجه ا.ا.ا اکمال گردید قابل یاد آوریست که دارالایتام هاي مرکزي در جریان سالهاي جنگ دو مرتبه مورد چورو چپاول قرار گرفتند. و اکنون به اثر توجه ا.ا.ا مجدداً به فعالیت خویش آغاز نموده است و در نظر است که بآن توجه بیشتر معطوف و در سطح کشور بآن گسترش داده شود.

در اخیر محترم مولوي محمد اصف معاون تدریسي دارالایتام پیام خود را به موسسه یونسف و تاجران ملي کشور چنین گفتند: به موسسه یونسف که حامي اطفال جهان است با اطفال دارالایتام هاي ما هیچگونه همکاري ندارد به موسسات خیریه بین المللي، هموطنان متمول ووطندوست و تاجران ملي کشور پیام من این است تا اطفال یتیم را که محروم ترین قشر جامعه بشري میباشند و از محبت والدین محروم اند از نظر پر عطوفت خود دور نداشته و دست نوازش بر سر شان کشیده و بدینوسیله سعادت دارین را نصیب خود سازند.

اختلاف بر سر...

ایالت بر درخواست جمهوریخواهان درین مورد رسیده گي خواهد کرد.

به گفته جمهوریخواهان طریقه شمارش آرا بوسیله دست خطر اشتباه انساني داشته و این اشتباه مخفي نگهداشته میشود.

در مقابل حزب دموکرات ها استدلال مینماید که با در نظر داشت اشتباهات زیاد ماشین ها فقط وسیله صحیح محاسبه آراء شمارش آن توسط دست میباشد.

به نسبت تفاوت هاي بسیار ناچیز تعداد راي در چهار ایالت امریکا بین جورج دبیلو بوش و الگور کاندیدان احراز مقام ریاست جمهوري آنکشور موضوع شمارش دو باره آراء انتخابات تحت بحث قرار دارد.

در حال حاضر الگور کاندید حزب دموکرات امریکا از لحاظ تعداد آراء عمومي و همچنان آراء الکترال یا مجمع انتخابات انتخاب کننده رئیس جمهور در سراسر امریکا اندکي از جورج دبلیو بوش سبقت دارد.

شوراي عالي...

موضوع مطالعه جدید نموده و در آن تامل عمیق نمایند به سبب اینکه از یك طرف انسان ضعیف و کم علم است و اعتماد نمودن او بر علم خود مناسب حالش نمیباشد و از طرف دیکر مطالعه و معلومات سابقه شاید بسیار دقیق نباشد زیرا در ان وقت این باعث که حکم و فیصله نمودن است وجود نداشت پس بخاطر فیصله یك موضوع به مطالعه جدید تمام جوانب مسئله شرعي آن موضوع ظاهر و روشن میگردد و اگر یك قاضي بگوید که این مساله را جدیداً براي یك موضوع دیگر که مانند این موضوع بود مطالعه کرده ام اما ما میگوییم که بسا اوقات که یك موضوع با موضوع دیگر شباهت میداشته باشد با آن هم در بین فرق و تفاوت باریك موجود میباشد.

بناً براي هر یکي از موضوعات مطالعه و تامل جدید ضروري پنداشته میشود محترم قاضي القضات افزودند: چون قضا یك عمل اساسي و بسیار مهم در شرع میباشد مایان به آخرین درجه توان و طاقت خویش در پیشبرد وظیفه مقدس قضا سعي و کوشش مینماییم باز هم ما از تمام علما و دانشمندان که در هر جا باشند تقاضا داریم تا بخاطر هرچه بهتر شدن قضا در محاکم امارت اسلامي مشوره هاي نیك و مفید خویش را شفاهاً داده و یا بطور کتبي به ما ارسال دارند همچنان اشخاص مسلکي که در قضا تجارب داشته باشند مشوره هاي سالم شان شنیده و پذیرفته میشود.

همچنان علاوه نمودند: به علماء و قضات محاکم معلوم است که یکي از اسباب حکم در فیصله ها قسم میباشد اما بعضي از مردم که در محاکم براي شان قسم متوجه میشود به دروغ قسم میخورند قاضي محکمه باید به آن شخصیکه برایش قسم متوجه میشود اولاً وعیدات قسم دروغ و سوگند ناحق را بیان کند و او را از عذاب الهي بترساند تا وي خود را هلاك نکرده و حقوق دیگران را تلف ننماید و در قسم دادن باید در دو حالت از تغلیض کار گرفته و قسم سخت داده شود یك در صورتیکه آن شخص که قسم میخورد به فساد شهرت داشته باشد و دیگر در آن صورت که مال و جایدادیکه در باره آن قسم داده میشود بزرگ و بسیار باش دو در غیر آن به قسم عادي و ساده هم اکتفا شده میتواند.

سپس روي مواد و موضوعات شامل اجندا بحث و بررسي دقیق و همه جانبه بعمل آمد در هر بخش از طرف شوراي عالي تصاویب صورت گرفت و غرض تعمیل به مراجع و محاکم مربوط ابلاغ گردید.

دور دوم کمپاین ...

گان موسسات خارجي اشتراك کننده آغاز گردید.

این کمپاین براي سه روز در سراسر کشور ادامه داشته و علاوه از تطبیق واکسین پولیو کپسولهاي ویتامین اي نیز غرض وقایه اطفال از مرض شب کوري براي اطفال کمتر از پنج سال تطبیق خواهد شد.

محترم وزیر صحت عامه در رابطه به آغاز کمپاین متذکره و مسوولیت موظفین زیربط گفت، وزارت صحت عامه به همکاري مالي و تخنیکي سازمان صحي جهان و یونسف دوره هاي قبلي واکسیناسیون را بطور قناعت بخش تطبیق نموده و امیدواریم که این دور واکسیناسیون نیز نتایج قناعت بخش را در قبال داشته باشد. وي از پرسونل موظف تطبیق واکسیناسیون تقاضا نمود که با درك مسوولیت ایماني و وجداني که در مقابل وطن، مردم و بخصوص اطفال کشور دارند در قسمت اجراي کمپاین مجدانه عمل نمایند. موصوف همچنان از مخالفین تقاضا نمود که بخاطر تطبیق بهتر واکسین آنتي پولیو را در روز هاي تطبیق واکسیناسیون مراعات نموده و فریب تبلیغات اجانب را نخورند. یك منبع مربوط درزمینه به خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گفت طي سه روز کمپاین در سراسر کشور پنج ملیون و سه صد هزار طفل از واکسین پولیو و چهار ملیون طفل از کپسول هاي ویتامین اي مستفید خواهند شد که از مجموع ارقام یاد شده یك ملیون و هفتصد و پنجاه و پنج هزار طفل در حوزه مرکز کشور که ولایات کابل، میدان وردك، لوگر، کاپیسا و پروان را در بر میگیرد شامل میباشد.

د روحانیه

ښار د جامعه عالیه روحاني مدرسې او د پکتیا ولایت د نورو مدرسو له طالب العلمانو سره د د پرشو ملیونو افغانیو نغدو پیسو او د یو شمیر دیني کتابونو مرسته کړیده چې د اړوندو مدرسو د چارواکو لخوا په کور ودانۍ سره ومنل شوه.

د قطر له ...

مفتي د افغانستان د اسلامي امارت د پرمختیاوو او ارزښتونو له الله څخه هیلې څرګنده کړه.

د یو بل خبر له مخې د بهرنیو چارو محترم وزیر پرون د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتونو د سازمان د سرمنشي له ځانګړي استازي ښاغلي فرانسس ویندرل او د پاکستان د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو له وزیر محترم عبدالستار خان سره وکتل او د دوحې په کنفرانس کې د طرحه شویو مسالو په باره کې یې ورسره خبرې وکړې.

دغه راز محترم متوکل د بهرنیو ژورنالستانو پوښتنو ته هم ځواب ووایه.

سعودي عربستان

د خبري منابعو د خبر له مخې په قطر کې د اسلامي هیوادونو د مشرانو په کنفرانس کې دغه راز له دغو هیوادونو څخه په ټینګار سره غوښتل شویدي چې له صهیونیستي رژیم سره خپلې اړیکې وشلوي او یا یې په ټیټه سطحه وساتي. د اسلامي هیوادونو د کنفرانس د سازمان د مشرانو په دې دري ورځني کنفرانس کې د ایران [illegible] محمد خاتمي د کنفرانس له [illegible] وغوښتل چې له صهیونیستي [illegible] په شمول کې د فلسطین د خلکو [illegible] وکړي.

مسدود شدن ...

سنگین را که امروز حکومت پاکستان بخاطر مهاجرین افغان متحمل شده است رفع گردد. بعداً محترم وزیر عودت مهاجرین به ژورنالستان فرصت بخشید تا پیرامون موضوع سوالات شان را در فضاي آزاد مطرح سازند.

- دلیل اساسي که امروز پاکستان مسدود ساختن سرحد تورخم را بر مبناي آن عنوان میکند از نظر شما چیست؟

محترم مولوي عبدالرقیب در پاسخ به این پرسش خبرنگار ما چنین اظهار داشت: فکر میکنم دلیل مشکلات اقتصادي پاکستان و ثانیاً جلب بیشتر کمك ها در قبال همین یك ملیون و سه صد هزار مهاجر افغان مي باشد.

وي در پاسخ یك پرسش خبرنگار بي بي سي چنین گفت: فعلاً ا.ا.ا هیچ نوع مشکلات سیاسي و دیپلوماتیك با جانب دولت پاکستان ندارد و اتخاذ این امر هیچگاهي نشاندهنده تهدید پاکستان علیه ا.ا.ا تلقي شده نمیتواند مسدود شدن تورخم مشکل ایالتي بوده و به سطح دولت پاکستان مطرح نیست.

د اسلامي امارت ...

میمنی ښار ته رسیدلی دی او د فاریاب له والي محترم حضرت ملا سیدجانان آغا دوغه ولایت له مرستیال محترم ملا دین محمد اخند او د فاریاب ولایت د عالمانو شورا له رئیس محترم مولوي سید مقصود آغا سره له کتنې وروسته په خپل کار پیل وکړ.

کشور ترکیه ...

که بین ملیت هاي مسلمان دو کشور وجو دارد مفصلاً صحبت نموده گفتند: ما خواهان احیاي روابط نیك و حسنه بین دو کشور میباشیم کشور ترکیه با در نظر داشت اوضاع و حالات جاري یك سلسله کمك ها در عرصه هاي مختلف بخصوص در امور طبي از جمله شفاخانه اتاترك در کابل شبرغان و تالقان و همچنان احیاي مجدد سیستم مرکز گرمي شفاخانه اتاترك را به سرمایه بیش از پنجاه هزار دالر نموده است.

شاغلي رمشن در بخش از سخنان شان گفتند: کشور ترکیه مخالف هر نوع مداخله در امور داخلي افغانستان بوده و هیچگاه اجازه نمیدهد تا از قلمرو آنکشور علیه مردم افغانستان تجاوز صورت گیرد مطالب که از طریق رسانه هاي بین المللي که گویا امریکا با استفاده از پایگاه انجر لیك قصد حمله بالاي افغانستان را دارد کاملاً بي اساس دانسته و عاري از حقیقت میباشد زیرا به هیچوجه کشور ترکیه حاضر نیست تا افغانستان از طریق قلمرو آنشکور مورد حمله قرار گیرد. متعاقباً محترم مولوي عبدالرحمن زاهد معین وزارت امور خارجه از حسن نیت محترم شارژدافیر کشور ترکیه اظهار سپاس نموده گفتند: تقرر شما درین پست یك قدم مثبت در تحکیم روابط بین دو کشور مسلمان محسوب گردیده و امیدوار هستیم تا روابط تاریخي و عنعنوي دو کشور مسلمان هرچه بیشتر تحکیم یابد. امارت اسلامي افغانستان همواره اعلام داشته که خواهان روابط نیك و حسنه با تمام کشور ها بخصوص کشور هاي مسلمان از جمله ترکیه میباشد متاسفانه بعضي از قدرت هاي بزرگ بخاطر دنبال نمودن منافع مشخص شان تلاش مي ورزند تا میان کشور هاي اسلامي فاصله ایجاد نمایند.

د درسي پلانونو ...

پاملرنې غونډه کې چې د تحصیلي موسسو د علمي او د محصلانو د چارو د برخو مرستیالانو او د اکاډمیکي چارو د سمون د ریاست چارواکو ګډون کړی و د لوړو زده کړو وزارت علمي او تدریسي معین محترم قاري ذبیح الله زاهد د تحصیلي سمسترونو د بشپړولو او د وروستیو ازموینو د پیل موضوع طرحه کړه.

په مقابل کې د کابل پوهنتون د محصلانو د چارو مرستیال محترم قاري محمد اجمل د کابل د پیدا ګوږۍ موسسې مرستیال محترم ملا ګل رحمن د کابل پولي تخنیک علمي مرستیال محترم سلطان محمد او د کابل د طب موسسې علمي مرستیال محترم طبیب محمد عالم همدرد په وار سره په اړوندو پوهنځیو کې د درسي پلانونو د تحقق او د تحصیلي نصاب د بشپړولو په باب بورپوټ وړاندې کړ.

وروسته د لوړو زده کړو محترم وزیر د تر سره شویو کارونو د څېړنې په ترڅ کې تحصیلي موسسو ته دنده وسپارله چې د اکاډمیکي اصولنامو له مخې د پوهنځیو د وروستیو ازموینو د تقویم له خاص تحصیلي نظم سره سم په ازموینو باندې د ځارنې د کمیسیونونو له جوړولو سره جوخت کنټرول کړي، په غونډه کې پریکړه وشوه چې د کابل پوهنتون د پولي تخنیک موسسې او د پیدا ګوږۍ موسسې د اړوندو پوهنځیو ازموینې دې د روان هجري قمري کال د شعبان المعظم د میاشتې په ۲۹ نیټه د شنبې په ورځ چې د ۱۳۷۹ هجري لمریز کال د قوس د میاشتې له پنځمې نیټې سره سمون خوري پیل شي. دغه راز د اکاډمیکي چارو د سمون رئیس محترم مولوي عبدالشکور ته دنده وسپارل شوه چې د کابل د طب موسسې د محصلانو د ازموینو ستونزې له اړوندو چارواکو سره وڅېړي او خپل مشخص پیشنهاد دې د لوړو زده کړو وزارت مقام ته وړاندې کړي.

۹ تنه قوماندانان ...

په سوله ییزې پالیسۍ او رښتینولۍ باندې په پوهیدو سره د اسلامي اردو له مجاهدینو سره یو ځای شول او په ټول هیواد کې یې د اسلامي امارت د لوړو هدفونو د تحقق په خاطر خپل بشپړ تیاري څرګند کړ او داد یې ورکړ چې د اسلامي اردو له مجاهدینو سره اوږه په اوږه په هیواد کې د سراسري سولې د تامینولو او د خلکو د نیکمرغۍ په خاطر له هیڅ راز سرښندنو او ځان تیریدنو څخه دده نه کوي.

دغو قوماندانانو ته د سمنګانو ولایت مرستیال محترم مولوي احسان الله د سمنګانو د ۱۹ فرقې مرستیال محترم ملا عبدالمالک اخند، امنیه قوماندان محترم ملا عبدالباري اخند او د ایبکو ښاروال محترم ملا ګل میر اخند تود هرکلی ووایه او د دغو قوماندانانو ته یې داډ ورکړ چې د خپلو نورو هیوادوالو تر څنګ په ډاډ سره خپل سوله ییز ژوند ته دوام ورکړي.

په مقابل کې د قوماندانانو رئیس جمعه او قوماندان حاجي محمد صدیق د نورو په نمایندګۍ خبرې وکړې او د اسلامي امارت د چارواکو د تاووده هر کلي له امله د قدرداني په ترڅ کې یې له نورو مخالفو قوماندانانو څخه وغوښتل چې نور د افغانستان د خلکو دښمنانو ته د سیسمه ونه غولیږي او د افغانستان د خلکو د نیکمرغۍ او سوکالۍ په خاطر د اسلامي اردو د مجاهدینو ترڅنګ ودریږي.

دغه راز دغو قوماندانانو په ټول هیواد کې د اسلامي امارت د لوړو هدفونو د تحقق په خاطر خپل بشپړ تیاري څرګند کړ.

تبصره

آیا افغانستان په رښتیا هم د ګاونډیو امنیت ته خطر دی ؟

پدې وروستیو وختو کې یو ځل بیا د ماتې خوړلو روسي قوا وله خوا پر افغانستان باندې په دې بهانه چې ګواکې د دوی امنیت یې له خطر سره مخامخ کړی یې ځایه تورونه لګول شوي.

تر کومه ځایه چې خبره د افغانستان په اسلامي امارت پورې تړاو لري هغه خو دا ده چې اسلامي امارت له خپلو ټولو ګاونډیانو سره تل د ښو مناسباتو او متقابلو حسنه علایقو غوښتونکی دی ددې مدعا د ښکاره ثبوت لپاره موږ کولی شو چې د هغو ګاونډیو هیوادونو نومونه واخلو چې له اسلامي امارت سره ښه علایق درلودل غواړي لکه ترکمنستان ایران او پاکستان د افغانستان او همدغو ګاونډیو هیوادونو تر منځ کله هم داسې څه نه دي رامنځ ته شوي چې هغوی ته سړي د خطر یا تهدید نوم ورکړای شي بلکې برعکس د دواړو لورو لخوا وضعیت په بشپړ عادي حالت کې قرار لري دا چې د پخواني ماتې خوړلې شوروي اتحاد په ګډې ناست روسي چارواکي په افغانستان د ګواښ او خطر تورونه لګوي هغوی اصلاً په دغو اتهام لګولو کې مستقل ندي او نه دا یواځې د هغوی کار دی موږ وینو چې نړیوال غربي استعمار د نړۍ په اکثره برخه مستقیم او یا غیر مستقیم تسلط لري په ډېرو خلیجي هیوادونو کې یې په همدې بهانه خپل ځواکونه ځای پر ځای کړي چې ګواکې هغوی ته له احتمالي ورپیښ خطر څخه نجات ورکوي د افغانستان د اسلامي جهاد له برکته د منځنۍ اسیا نوی خپلواکه شوي جمهوریتونه چې تازه یې د کمونستي استعمار ځغر له سره پورته شوی بیرته په نا آګاهانه توګه د غربي استعمار تر زیرځواکې لاندې د لاندې کیدو په حال کې دي.

د مسکو چارواکي چې له سختو اقتصادي او سیاسي ستونزو سره لاس او ګریوان دي او ځان ته یې ددې تمه نه کیږي چې بیا دې له ولکې وتلي جمهوریتونه تردم لاندې کړي په ډېره ځیرکانه توګه د حالاتو څارنه کوي خو د خپلو وریښو مشکلاتو له امله د غربي استعمار د مخنیوي په اړه همداسې لاس ترزنې ناست دي امریکایان ددې لپاره چې په منځنۍ اسیا کې د ځان لپاره د پښې ایښودلو ځای پیدا کړي کله د امنیتي کمربند پروګرام طرح کوي او کله هم ددې سیمې له هیوادونو سره د دوی په اصطلاح د نړیوال تروریزم !!! د مخنیوي په غرض د اقتصادي او نظامي موضوعاتو خبرې کوي او د همدغو اهدافو د پیاده کولو لپاره له البرایت نه راپیولې بیا تر نورو لوړ پوړو امریکایي چارواکو پورې سیمې ته تاوده تاوده سفرونه کوي د سیمې یو شمیر ساده لوح چارواکي د خپل واک د ساتلو په غرض دې ته مایل دي چې امریکایي مرستې د امریکایي مصالحو د تحفظ لپاره تر لاسه کړي.

خو که د موضوع حقیقت ته وکتل شي په سیمه کې دغه امریکایي سیاسي او نظامي نفوذ نه د منځنۍ اسیا د هیوادونو او نه هم د امریکایي ولس او چارواکو په ګټه دی موږ وینو چې په خلیجي هیوادونو کې امریکایي نظامي تمرکز د هغو هیوادونو د قیادتونو او ولسونو تر منځ څومره ستونزې را پیدا کړې همدارنګه په منځنۍ ختیځ کې له غاصبو صهیونستانو څخه امریکایي ملاتړ په ټوله سیمه کې څومره کړکیچ رامنځته کړی.

که د منځنۍ اسیا د ځینو جمهوریتونو چارواکي دا ومني چې په خپله سیمه کې امریکایي نظامي او سیاسي نفوذ ته زمینه برابره کړي نو دا به نه یوازې دا چې هغوی بیرته د روسي استعمار په ځای تر غربي استعمار لاندې راولي بلکې په سیمه کې به د سخت تشنج او ګډوډۍ عامل هم وګرځي.

د افغانستان ځینې شمالي ګاونډي هیوادونه که وغواړي چې په واقعي توګه یې په خپله سیمه کې امنیت تامین شي ددې پر ځای چې امریکایي نفوذ ته زمینه برابره کړي دا ورته لازمه ده چې له افغانستان سره د ښو علایقو د تامینولو هڅه وکړي ځکه د افغانستان اسلامي امارت لکه څرنګه چې غواړي په داخلي سطحه د ګډوډۍ مخه ونیسي همدارنګه غواړي چې له خپلو ټولو ګاونډیانو سره د ښه ګاونډیتوب په معیار ښه علایق ولري.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150